چا چې د رمضان روژه - په الله تعالى - د ايمان په وجه د ثواب په نيت ونيوله؛ نو مخکني ټول ګناهونه يې وبخښل شي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دى وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «چا چې د رمضان روژه - په الله تعالى - د ايمان په وجه د ثواب په نيت ونيوله؛ نو مخکني ټول ګناهونه يې وبخښل شي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې چا د رمضان مياشتې روژه په الله تعالى د ايمان او روژې د فرضيت له مخې ونيوله - او هغه څه چې الله تعالى د روژه نيوونکو لپاره له ستر ثواب څخه چمتو کړي دي - او موخه يې يوازې د الله رضا وي؛ نه ځان ښودنه او شهرت، نو تېر ګناهونه به يې وبخښل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4196

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee